# میدیوتیک افغانستان
# خانه رسانه یی ننگرهار
# ننګرهار رسنیز کور

# خبرپاڼه

**نېټه:**۲۰۱۲/ ۱۱/۱۴


## دافغان خصوصي ښوونځیو ستونزې او حل لارې

د۲۰۱۲م کال دنومبرپرخوارلسمه نېټه ننګرهارمیدیوتیک – رسنیزکور- په افغانستان کې دپوهنې دچارو دودې او پرمختګ په اړه یو ګردی مېز رابللی و.داګردی مېزداخل دخصوصي ښوونځیو ستونزو او برياوو ته ځانګړی شوی و.
داوخت په ننګرهارکې دخصوصي ښوونځیو لپاره دجوړې شوې اتحادیې استازي ، دننګرهاردپوهنې ددولتي ریاست استازي او دسیمې دبېلابېلو رسنیو ژورنالستان حاضروو. لومړی خبریالانو هغه شکایتونه مطرح کړل ، چې دخصوصي ښوونځیو دبېلابېلو ستونزو او په تېره دښوونیز نصاب په برخه کې دستونزو په اړه دوی ته وررسېدلي وو.
بیا دخصوصي ښوونځیو چلوونکو او استادانو خپلې ستونزې اوبرياوې وښودې ، ورپسې دننګرهاردپوهنې ریاست سلاکار او ددغه ریاست ویاند الحاج محمد اصف شینواري په خپل واراړونده اندېښنې ، پوښتنې ، وړاندیځونه او مشورې هره یوه په پوره تفصیل ځواب کړې.
دبحث عمده ټکي داوو، چې ولې په خصوصي ښوونځیوکې پاکستانی تعلیمي نصاب تدریسیږي، دغه رازدپردیو دفرهنګ دبیلابېلو برخو په اړه په پوره تفصیل خبرې وشوې.
دپوهنې ریاست استازي ډاډ وښوده ، چې یادې ستونزې به له لوړو مقاماتو سره شریکوي، او په ګډه به ورته حل لارې لټوي.

ننګرهاررسنیزکور




**زمونږ پته:**
**کور: پنځم سړک: دویم ناحیه: دویم ښار: جلال اباد**
**فون: 845 6300 70 93+**
**برېښنالیک: siamuden2009@gmail.com**
**ویب پاڼه: www.mediothek.org.af**
**فیس بوک: Mediothek Media House Ningarhar**



**برنامه های مراکز رسانه یی میدیوتیک توسط وزارت خارجه جمهوری فدرالی آلمان حمایت مالی میگردند**